بشير دوديال / مختصات افغانستان/ شاعران و هنرمندان ٢٠٢٣/٠١/١٣

پوهاند محمد بشير دوديال

**د افغانستان په لوی قاموس کې د ناديا انجمن لنده پېژندنه**



ناديا د منشی عبدالباقی نورزايی لور وه چی د ١٣٥٩ ل. کال د مرغومی په شپږمه يې دهرات ښار پنځمه ناحيه کې نړۍ ته سترګې پرانيستی وې. د نوموړې پلار يو سواد لرونکی شخص او دتعليم اوپوهې مينه وال و، د دوی کورنۍ د هرات يوه روښانفکره کورنۍ وه چې ناديا پکې وروزل شوه. هغه د محجوبی هروی ښوونځی ته ولاړه، خو لا دولسم ټولګی څخه نه وه فارغه چې د طالبانو لومړۍ دوره واکمنی راغله. طالبانو دنجونو ښوونځي وتړل . ناديا اړه شوه چې د څه ناڅه بوختيا او د خپلې کورنۍ د لګښتونو د پوره کولو په خاطر دخياطی او څادر ګنډلو کار پيل او په هرات کې د "سوزن طلايی" په کار ځای کې په کار بوخته شوه. له دې بوختيا سره يو ځای يی په کورکې په خصوصی توګه د خپلې کورنۍ له غړو څخه هم زده کړو ته دوام ورکړ. د سوزن طلايی کار ځای د هرات ولايت د يو شمير سواد لرونکو، منورو اود فرهنګ مينه والوښځو له خوا جوړ شوی و او د هرات يو شمېر پيغلې پکې په ګنډلو بوختې وې. دوی به د شعر او شاعرۍ په هکله ځينې غونډې هم جوړولې او ادبي کره کتنه به يې هم کوله چې په دغو ادبي بحثونو کې به ناديا فعاله برخه لرله. دا وخت يې ځانته د (انجمن) ادبی تخلص غوره کړ.

ناديا له وړکتوب څخه له ادب سره مينه لرله او د ښوونځي په دوره کې يې د شاعرۍ استعداد له ورايه ځرګند شو. په دې توګه يې په پنځلس کلنۍ کې شعر ليکل پيل کړل، چې ډېره وهڅول شوه. کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، ناديا انجمن د پوهنتون د کانکور آزموينه ورکړه او د هرات پوهنتون د ژبو اوادبياتو د پوهنځی د دري/پارسی څانګې ته بريالی او لوړې زده کړې يې پيل کړې. په ١٣٨٢ ل. کال کې يې واده وکړ، چې له واده څخه يو زوی لرۍ، دا ځکه چې له خاوند سره يې ګډ ژوند يوازې يو کال او څو مياشتې و، يعني د ١٣٨۴ ل. کال د لړم په پنځلسمه نېټه د خپل خاوند د سوکانو او وهلو له امله مړه شوه. د نوموړې د مرګ لامل کورني اختلافات و چې خاوند يې نه غوښتل چې ناديا انجمن هنري او فرهنګي چارې ترسره کړي.

د ناديا انجمن دوه شعری ټولګی په دري/پارسي ژبه راپاتی دي؛ يوه يې "ګل دودی" او بله يې "يک سبد دلهُره" نوميږي. دغي زړورې ويناوالې په دوديز(کلاسيک) او نوی سبک کی شعرونه ليکل، خو

په غزل ليکلو کې ډيره نامتو وه، "ګل دودی" جونګ (شعری ټولګه) يې دوه ځله چاپ شوی، ځکه چې ډير خوږ اوپه زړه پورې و. د اشعارو دغه کتاب يې لومړی ځل په ۱۳۸۳ ل. او دوهم ځل په ۱۳۸۴ ل. کې په هرات کې چاپ شو. د دغه جونګ شعرونه څلوريزې، غزل او بې قافيې شعرونه دي. دغه ځوربدلې شاعره، خپل لنډ ژوند کې د افغانستان د ښځو غمځپلی ژوند درک کړاو د دوی رنځ، مجبوريتونه، اومحدوديتونه يې وپيژندل، نوځکه يې اشعار هم د همدغو ناخوالو ښودلو او منعکس کولو ته وقف کړل. يعنې دهغې اشعارد درد، نابرابريو او تاوتريخوالي ځريکې دي، هغې د ښځو ټولنيزې ستونزې وښودې او د افغانستان دټولنيزی او اقتصادي پرمختيا غوښتونکې وه. د کلام دوه بيلګې يې دا دي :

***

عمری ايت دفتر دل ما خانه شماست
اين چشم های غمزده اين گونه های زرد
اثار شوم عادت خصمانه شما ست
ای شاخه های غم !
صد نوبهار آمد و صد مهرگان گذشت
بس غنچه های که داغ به دل از جهان گذشت
صد راه بسته واشد و صد کاروان گذشت
فرعون مرد و قصه نمروديان گذشت
اما شما هنوز چنان سبز و تازه ايد
گويی ز بطن باغچه امروز زايده ايد
ای شعله های ياس !
يک روز از ديار دل ماسفر کنيد
تنها به قلب ماست سزاوار سوختن
يک بار هم به خانه ديگر گذر کنيد
ای قصه های تلخ !
جانها به لب رسيده ز مهمانی شما
زنهار، جستجو گر مسکن اگر نه ايد
فرداست کز خرابه غمبار روزگار
ما رخت بسته ايم وشما راز و بيپناه
دربرزخ زمان
بيخانه مانده ايد.

دا يې دشعر يوه بله بيلګه:

الا ای دختران انزوای قرن
ای راهبان ساکت بيگانه با مردم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ای مرده در آیین لبها تان تبسم
بیصدا در کنج مهجوری خزیده
با تبار خاطرات خفته در انبوه حسرتها.

***

اروا ښاده دیانا انجمن زموږ د ویر فرهنګ یوه تلپاتي ځلانده، خو ارمانجنه ځیره ده، چې د ناهیدې او فرخندې په شان یې د جهل او ظلم له لاسه ځوان او روښانه آرمانونه له خاورو سره خاورې شول.

**معرفی نادیا انجمن در قاموس کبیر افغانستان**



نادیا دختر منشی عبدالباقی نورزایی بود که بتاریخ ششم جدی سال ۱۳۵۹ ش. در مربوطات ناحیه پنجم شهر باستانی و شاعر پرور هرات چشم به جهان گشود. پدرش شخص باسواد و علاقمند به دانش وتعلیم بود. خانواده نورزایی که نادیا درآن پرروش یافت، یک خانواده ی منور هرات بود. هنگامیکه به سن مکتب رسید، شامل مکتب محجوبه هروی گردید، ولی هنوز صنف دوازدهم را به پایان نرسانیده بود که دور اول طالبان شروع گردید. طالبان مکاتب دخترانه را بستند. نادیا مجبورگردید تا به خاطرهایی از بیکاری و تدارک بعضی مصارف خانواده به خیاطی وگلدوزی روی آورد، همان بود که در شهر هرات در کارگاه مخصوص زنان که بنام "سوزن طلایی" ایجاد شده بود، به کار بپردازد. همزمان با این مصروفیت اش درخانه مصروف اکمال تعلیماتش نیز بود. کارگاه سوزن طلایی توسط یکتعداد زنان منور، فرهنگدوست وباسواد هرات تاسیس شده بود که یکتعداد دختران شهر هرات درآن مصروف آموختن هنر گلدوزی و اجرای خیاطی بودند. بعضاً درین کارگاه مجالس شعر خوانی و نقدهای ادبی نیز دایر می شد. که شادروان نادیا ازیکی فعالان آن بود. در همین ایام او تخلص ادبی (انجمن) را بخود انتخاب نمود.

نادیا انجمن ازدورهٔ طفولیت علاقمند ادب بود ودر دوره ی مکتب استعداد سرودن شعر در او نمایان شد، به این ترتیب در سن پانزده سالگی به سرودن شعر پرداخت. او از طرف اطرافیانش خیلی تشویق شد. وقتی دور اول طالب سقوط داده شد، نادیا انجمن امتحان شمولیت کانکور در پوهنتون را سپری


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نمود و به پوهنځی زبان وادبیات پوهنتون هرات کامیاب و در دیپارتمنت دري/پارسی آن مشغول تحصیلات عالی گردید. طی سال ۱۳۸۲ ش. ازدواج نمود که ثمره ی آ ن صرف یک پسر بود، زیرا زنده گی مشترک او با شوهرش صرف یکسال و چند ماه طول کشید که نسبت به ناملایمات خانواده گی و مخالفت شوهرش با امور اجتماعی و ادبی باعث گگردید نسبت ضربات ناشی از لت وکوب او در خزان سال ۱۳۸۴ ش. وفات نماید. علت اختلاف خانواده گی اش همانا عدم موافقت شوهر در امور فرهنگی و هنری اش بود.

از نادیا انجمن دو مجموعهٔ شعری (گل دودی) و (یک سبد دلهُره) به چاپ رسید. این شاعر شجاع هم به سبک کلاسیک وهم اشعار آزاد سرود ، اما در سرودن غزل خیلی موفق بود. مجموعهٔ شعری او تحت نام (گل دودی) نسبت حلاوت و جذابیت دو بار در هرات منتشر شد. بار اول درسال ۱۳۸۳ ش. وبعد در سال ۱۳۸۴ ش. که محتوای آن اکثراً چهاربیتی، غزل و بعضاً اشعار بدون قافیه اند. این شاعر دردیده طی عمر کوتاه اش رنجها و مصیبتهای زنان افغانستان رابخوبی درک و آلام، مجبوریتها ومحدودیتهای شانرا بهتر شناخت و از آن شکایتها نمود، اشعارش دربر گیرنده همین مسایل اند. یعني اشعارش را وقف درد، نابرابریها و خشونتهای موجود را فریاد زد، نابرابری اجتماعی را منعکس و غرض پیشرفت و ابادی کشور تلاش نمود. دو نمونه شعرش در ذیل دیده شود:

***

عمری ایت دفتر دل ما خانه شماست
این چشم های غمزده این گونه های زرد
اثار شوم عادت خصمانه شما ست
ای شاخه های غم !
صد نوبهار آمد و صد مهرگان گذشت
بس غنچه های که داغ به دل از جهان گذشت
صد راه بسته واشد و صد کاروان گذشت
فرعون مرد و قصه نمرودیان گذشت
اما شما هنوز چنان سبز و تازه اید
گویی ز بطن باغچه امروز زایده اید
ای شعله های یاس !
یک روز از دیار دل ماسفر کنید
تنها به قلب ماست سزاوار سوختن
یک بار هم به خانه دیگر گذر کنید
ای قصه های تلخ !
جانها به لب رسیده ز مهمانی شما
زنهار، جستجو گر مسکن اگر نه اید
فرداست کز خرابه غمبار روزگار
ما رخت بسته ایم وشما راز و بیپناه
دربرزخ زمان
بیخانه مانده اید.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ

نمونه دوم:

الا ای دختران انزوای قرن
ای راهبان ساکت بیگانه با مردم
ای مرده در آیین لبها تان تبسم
بیصدا در کنج مهجوری خزیده
با تبار خاطرات خفته در انبوه حسرتها.

***

شادروان دیانا انجمن یکی از چهره های درخشان فرهنگ و ادب ما بوده، که آرمانهای بزرگ وانسانی را در دل خودداشت ، اما به سبب  جهل و ظلم تمام خواسته های انسانی اش را مانند شهید فرخنده و شهید ناهید باخود به زیر خاک بُرد.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ